مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: بشرمل پسرلی ۲۰۲۴/۰۵/۰۳

# فېډرالېزم: خيالي طرحه د تجزيې له ارمان سره

۶ برخه

که چېرې قومي فېډرال غوښتونکي د افغانستان سياسي او ټولنيزو حالاتو ته په غور پام وکړي، د ډېرو په اند،شوني ده چې نظر يې د فېډرالېزم خلاف تغير و مومي، ځکه چې پخپله ځان گرداَب ته غورځوي. چا چې د فېډرال غوښتني کړي، يا له فېډرالېزم او افغانستان څخه سم معلومات نه لري او يا هم کومه پروژه پلي کوي. بل لورته پخپله ځيني قومي فېډرال غوښتونکي دا مني، چې فېډرالېزم له فساد، بې عدالتۍ او د ولسواک نظم له منځه تللو څخه مصون نه دی. ځيني يې فېډرال هغو هېوادونو ته مناسب گڼي، چې لويه جغرافيه ولري او يا متراکمه قومي يا ديني ډلې ولري او په ورته وخت کې دا مني، چې فېډرالېزم په هغه حالاتو کې ناکامه طرحه ده، چې د سياسي ډلو ترمنځ درنښت، قانون ته درناوی او هېواديني هويت ته حس نه وي. خو ددې ټولو با وجود کوښښ کوي، چې هغه اجنډاوې پلي کړي، او په دې هم ښه پوهېږي، چې د فغانستان د فېډرال پايله څه ده؟

د نړيوالتوب په درشل کې، هېوادونه هڅې کوي، چې له ملي واکمنۍ څخه يې کمې وکړي، او له ملتونو پورته سازمانونو ته واک ورکړي، ترڅو يې ملي گټې لا خوندي شي، خو قومي فېډرال غوښتوکي دا وړه جغرافيه په نورو خپلواکو جغرافيو وېشي پداسې حال کې چې د لېبرال او د نړيوالتوب بحثونه ظاهراً له ټولو همدی ډېر مطرح کوي. دا دور د نولسمې يا د شلمې پېړۍ زمان نه دی، چې دولتونه هرڅه وغواړي هغه وکړي، بلکې د ټولو دولتونو کلاسيک حاکميت نه دی پاتې، د نړيوالتوب ځېو ملتونه او دولتونه سره تړلي او دولتونه نه شي کولی چې د خپلو ولسونو انساني کرامات او بشري حقوق تر پښتو لاندې کړي، که چېرې د کلاسيکي واکمنۍ او مستبدانه کړني غوره کړي، منزوي کېږي.

واقعيت دادی چې بنسټيز فېډرال ارزښتونه پرته له پرمختللو او ولسواکو غربي نظامونو، د نړۍ په هېڅ فېډرال دولت کې بازار نه لري، د ډېرى هغو هېوادونو چې فېډرال نظام لري، يوازې چوکاټ يې فدرالي دی، حتا ولسواک هم نه دي او دا لړۍ په همداسې وي، ځکه چې دا ددې هېوادونو د ټولنو او سياستونو ريښتيني څېرې دي، مگر داچې په بنسټيزه توگه مثبت سياسي بدلون رامنځ ته کړي.هغه پرمختللي هېوادونه، چې نظامي ځواک، اقتصادي ځواک، سياسي اغيز، ولسواکي او د قانون حاکميت له ځواکمن مرکزي دولت او هېوادوال او ملت پال سياسيون او ويښ او واحد ملت ولري، د هر ډول ولسواک نظام سياسي چوکاټ کې برياليی مزل وهلی شي او کولی شي، چې فدرال چوکاټ غوره او په اغېزمنه توگه پرمخ ولاړ شي، لکه برتانيه، فرانسه او حتا چين او په همدې ترتيب نور هېوادونه. کتابي فېډرالېزم او د پرمختللو غربي هېوادونو پرمختللي فدرال نظامونه، چې نه د تجزۍ له گواښ سره مخامخ دي او نه هم کومه جدي ملي مسله پر مخ لري، پرتله له وروسته پاتې هېوادونو فېډرال نظامونو سره، چې له عصبيت، افراطي قوم پالني او کرکې څخه ډک دي، علمي بنسټ او منطقي دليل نه لري.

**ولې فېډرال غوښتنه؟**

کله چېرې د قومي فېډرال غوښتونکو، باورونه، اعمال او چلند وينو، لاندې پايلې ترلاسه کولی شو:

لومړی، په هېواد کې وروستيو څلوېښت کلونو ناخوالو، د بهرنيو لاسوهنو او د نړيوالو قدرتونو ترمنځ سياليو، ځينو ته سياسي اجنډا په لاس ورغلي، ترڅو افغانستان د نورو د نفوذ حوزه او يا هم بل پرې واک ( Suzerain) حاکم کړي. دا قومي سياسيون ددې هېوادونو د اجنډاو په تطبيق کې مخلص ښکاري او هڅې يې کړي او لا يې کوي، ترڅو خپلو موخو ته ورسېږي. د بېلگې په توگه، جنرال عبدالرشيد دوستم او محمد کريم خليلي چې له ايرانه او له تاشکنده يې حتا د هزارستان او ترکستان نقشې او طرحې له ځان سره راوړې وې، خو طرې يې په پانو کې پاتې شوې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دویم، دا ډله قومي سیاستوال په پوره خبرتیا  او اګاهي د قومي عصبیت او کرکې پر بنسټ د فډرال د رامنځته تګ په فکر دي، خپلو موخو ته د رسېدو په موخه له فډرالېزم منحیث د وسیلې ګټه پورته کوي. د افغانستان د فډرال خوبونه محقق کېدی نه شي، خو قومي سیاستوال په دې ډول خپلې عقدې سړوي. د بېلګې په توګه، عبد اللطیف پدرام په نوم یو بېلتونپال تل هڅه کوي، چې په افغانستان کې قومي جنګونو ته لمن ووهي او له دې لارې خپلې موخې ترلاسه کړي.

دریېم، ځیني قومي انګېزه لرونکي ځوانان په ناپوهۍ او د معلوماتو د نشتون له امله فډرالېزم په خیالي او رومانتیک ډول مطرح کوي، په دې فکر چې د فډرالېزم په پلي کېدا به افغانستان، لکه د امریکا متحده ایالات، سویس او یا د استرلیا په څېر شي. که چېرې دا ډله ژوره مطالعه وکړي او نورو ته د سون توکي نه شي،له ټولو به سرسخت د افغانستان د فډرال کېدو مخالفین وي. د بېلګې په توګه، احمد مسعود چې د احمد شاه مسعود زوی دی، د سویس ماډل فډرالېزم غواړي، خو پلار مرحوم یې په ښکاره ویلي، چې فډرالېزم یعنې د افغانستان تجزیه. دا ځوان ممکن د قدرت په هووسي خوبونو کې ډوب وي او یا هم تعصبي او قومي انګېزې یې پورته تللې وي، چې حتا د خپل پلار خبر نه مني، خو د پلار په نوم او نښان ټول امتیازونه ځان ته منحصر بولي.ځینې هغه یې غواړي د خپل قلم ننداره وړاندې کړي او په ذهن کې خیالي نړۍ یې ځانه ته ترسیم کړې او د سیاسي واک پېښې کوي. دا کټګورۍ په لاندې ډول د فډرال ایالتونو رامنځ ته کول غواړي. له دې یې د عقدو او عدالت برداشت هم کېدی شي:

هرات، فراه، غور، بادغیس او نیمروز د خراسان ایالت

بلخ، میمنه، سرپل، جوزجان او سمنګان شمال ایالت

بدخشان، تخار، کندز او بغلان تخارستان ایالت

وردګ، لوګر،کابل،کاپیسا،پنجشېر او پروان د کابلستان ایالت

کندهار، هلمند، پکتیا، ازرګان او غزني پښتون مېشته سیمه د پښتون زمین ایالت

پکتیکا، ننګرهار، خوست، کونړ، نورستان او لغمان پښتون حدود ایالت

غزني، ارزګان او بامیان غرجستان ایالت

څلورم، ډېری یې په ځان کې دا اهلیت نهویني چې وشي کولی د مرکزي حکومت واګې په ولسواکه توګه ترلاسه کړي. له ناهیلۍ محلاتو ته پناه وړي ګویا، چې محلاتو کې به تل ددوی حکومت وي. ښه به داوي چې ځان کې اهلیت او پراخه سینه پیدا کړي، او له ټولو افغانانو سره په ګډه، د یو انسان محوره ولسواک نظام په رامنځ ته کېدو کې رول ولوبوي او د مرکزي حکومت چارې دې تر لاسه کړي.د بېلګې په توګه، رمضان بشردوست د هېواد په هره برخه کې پلویان لري او که چېرې په تېر نظام کې فساد او په ټاکنو کې لاس وهنې نه وی او یو ولسواک محور ورته کمپاني مبارزه پیاوړې کړې وی، ممکن د رایو له نظره په لوړ موقف کې وی.

پینځم، ځیني د ځان پالنې په هوسو نو کې غرق دي. کله چې په واک کې وي، فډرالېزم او حتا پارلماني نظام په کلکه ردوي، خو کله یې چې واک نه وي، له احمد شاه بابا (رح) تر دې دمه په نظامونو نیوکې پیل کړي. د بېلګې په توګه، کله چې سرور دانش د ولسمشر لومړی مرستیال و په کلکه یې فډرالېزم ردوه او حتا پخپل کتاب حقوق اساسي افغانستان کې په مشرح توګه فډرالېزم رد کړی او د بسیط ولسواک نظام ننګه یې کړې، خو اوس په فډرالېزم کتاب لیکي.

شپږم، ځیني جګړه ماران او د جګړې میراث خوران، په دې اند دي که چېرې فډرالېزم رامنځ ته شي، ددوی ملک الطوایفي به ټینګه شي او په محلي کچې به خپله میراثي شاهي ټینګه کړي، له مرکزه به په تېښته وي او د قانون واکمنۍ او د بشري حقوقو له احکامو به په امان وي، لکه جنرال مالک، چې د بشري حقونو ناقض او د ډېرو افغانانو قاتل دی، چې باید انتقالي عدالت پرې پلی شي.

اووم، لږ شمېر هغه مفسد او لوټمار جګړه ماران دي، چې د قدرت حرص یې ورځ تر بلې زیاتېږي. په ولسواک ریاستي نظام کې یې قناعت ونه شو، تل په دې هڅه کې و چې څرنګه فرد اول ممکلت شي، خو چې کله پوی شول، چې فرد اول مملکت اخلاص او د ولس رایه غواړي، نورو لارو چارو باندې یې لاس پورې کړی، ترڅو دداسې یوې جغرافې مشري وکړي، چې درې ګونه قواوې لکه اجراییه، مقننه او قضایه ولري او قوانین توشېح کړی شي.

د ټولو فډرال غوښتنونکو ګډ ټکي دادی چې له بده مرغه د عصبیت او تعصب په ناروغۍ اخته دي، ټول له افغان هویت او له افغانستانه متنفره دي، ټول غواړي، چې مرکزي هسته له منځه ولاړه شي او متراکمه ډلې ټپلې واک وچلوي او په دې ترتیب د افغانستان ناخوالو او حتا تجزیې ته زمینه سازي وکړي. جالبه داده چې ځینې یې له یو لوري قومي فډرالېزم ناشونی ګڼي،خو د قومي او مذهبي هویت د خوندیتوب په موخه د فډرالېزم ارمان په ذهنونو کې متصور کوي**!**؟ د قومي فډرال غوښتونکو د تجزې اجنډاوې او له افغانستانه د کرکې بېلګې کمې نه دي. په دې وروستیو کې قومي فډرال غوښتونکي نجیب بارور نومي شاعر په ډېره سپین سترګۍ پنجشیر ولایت د ایران برخه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ګڼي او په ډېر وياړ د ايراني اخوندانو ترمنځ وايي چې زه د ايران له پنجشېر ولايت څخه يم! جالبه لا دا چې يو لور ته د سېکولرۍ او لېبرال ارزښتونو دعوې کوي، خو بل لور ايراني مستبدو اخوندانو ته قصيدې وايي! د قومي فدرال غوښتونکو فېسبوکي زمزمه کونکي ددې شرم په دفاع کې وايي چې ولې افغانان د لر او بر يو افغان خبره کوي؟ کله چې افغانان دا نعرې وهي، موږ هم دا کار کولی شو! خو دا له ياده باسي چې افغانان که د يو افغان خبره کوي، مرکز يې کابل ګڼي او جلا شوې برخه له ځان سره يوځای کول غواړي، نه داسې چې افغانستان د بل هېواد برخه وګڼي او نورو ته يې حواله کړي.
ځينې قومي فدرال غوښتونکو لېبرال فدرال نظريات د نړيوالو د پام را اړولو او د اذهانو د تېر ايستو په پار مطرح کوي. کله چې د لېبرال ارزښتونو، قانون واکمنۍ، ټولنيز عدالت او پرمختګ موضوع يو لور وي، او ددوی قومي عصبيت او تنفر بل لورشي، بيا يې دريځ په ښه ډول راښکاره شي. د بېلګې په توګه، غازي امان الله خان چې د خپلواکۍ، ولسواکۍ او د پرمختګ باني ګڼل کېږي، خو قومي فدرال غوښتونکي حبيب الله کلکاني، چې د هيلو او هوسا ژوند مشال يې خاموش او د جهل او تيرو څپرکی يې پرانېست، له دې امله اتل ګڼي، چې اماني يا ددوی په باور د پښتنو واکمني يې ړنګه کړي.

**ولې افغانان ټل فدرالېزم نه مني؟**
نه فدرال سياسي نظام ذاتآ بهتر دی او نه هم د افغانستان شرايط او حالات د سويس، استراليا او يا د امريکا د متحده ايالتو په څېر دي. په اسلامي او دوديزو هېوادونو کې حتا ولسواکي په ډېره ګرانه ريښه نيسي، او شته داسې اسلامي پوهان، چې ولسواکي له دين سره په ټکر کې ګڼي او هغه دوديز مشران يې بيا غير عيني هڅې بولي.
تاجک افغانان د هېواد په مختلفو برخو کې خواره واره پراته دي او په همدې ترتيب پښتانه افغانان هم د شرق، جنوب، غرب او مرکز ترڅنګ په شمال او شمالشرق کې له اوزبکواو تا جکو افغانانو سره ژوند کوي. د اسلام ترڅنګ چې افغان قومونه يې سره نښلولي، غير متراکم قومي او ژبني وضعيت، ټولنيز مشترکات، ګډ تاريخ، يو ډول سرنوشت او له پېړيو راهيسې يو هېواد درلودل، هغه فکټورونه دي، چې افغانان يې يو موټی ساتلي او د هر يرغلګر پر وړاندې يې له ملت، هېواد او له ملي نواميسو په ګډه دفاع کړې. د سياست پوهانو او ټولنپانو په اند، ټولنيز نظم په پلان شوي شکل منځ ته نه راځي او نه هم دوام مومي، بلکې تاريخي تجربې، ارزښتونه او مشترکات دي، چې د يوې ټولنې په نظام مندۍ کې رول لوبوي، چې دې ته خود جوشه نظم وايي داسې نه ده، چې د قوانينو او فرامينو پر بنسټ رامنځ ته شي. د افغاني ټولنې نظم او ساختار هم د قوانينو او مقرراتو پر بنسټ نه دی رامنځته شوی، بلکې د سلګونه کلونو پايله ده، چې قومونه يې سره په نه شکېدونکي ډول پيېلي. په داسې يو واحد هېواد کې د فدرالېزم مطرح کول افغاني او هېوادنۍ انګېزه نه لري. ښه به وي چې په هېواد کې د خيالي فدرال طرحې شننه په لاندې ډول وکړو:

**الف- د قوم پالنې رد د انسانيت، اسلاميت او افغانيت له پلوه:** لکه څرنګه چې افغانان د يو ملت برخې دي، د افغان قومونو ترمنځ تعصب له اسلامي پلوه حرام، د انسانيت پر بنسټ ناوړه عمل او د افغانيت په اساس ټل مردود دی. د افغانستان قومي او ژبني هويتونه هم له عملي پلوه او هم د قانوني احکامو پر بنسټ، تر بل هر وروسته پاتې ملته ډېر خوندي دي او هر کله چې په دې برخه کې ناخوالې راټوکېږي، مرکزي حکومت کولی شي، چې په مشروع ډول يې حل کړي. که چېرې د هېواد عيني وضعيت ته وکتل شي، دري ژبه حتا له پښتو ډېر ويونکي لري او په ځينو پښتنو سيمو کې دري ويل کېږي، خو د دري ژبو سيمو کې پښتو رسمياتو کې نشته او ډېری کم غير پښتانه افغانان پښتو وايي، خو برعکس ډېری پښتانه افغانان دري ويلی شي. اوزبکي ژبه بايد په هغو سيمو کې چې اوزبک اوسېدونکي لري رسميت ولري او اوزبکان وشي کولی ازبکي ووايي او وې ليکي. د افغانستان ۲۰۰۴ اساسي قانون پربنسټ، چې نسبي لېبرال او ولسواک ارزښتونه يې منعکسه کول، دولت مصمم و، چې ټولو افغانانو ته يوشان موقع مساعده کړي او ټول هېوادوال د قانون پر وړاندې له مساوي حقونو برخمن او د قانون پر وړاندې ټول ځواب ويونکي و. د بېلګې په توګه:

- څلورمه ماده: په افغانستان کې ملي واکمني په ملت پورې اړه لري، چې يې په مستقيم ډول خپله يايې د خپلو استازو له لارې عملي کوي، د افغان ملت له هغو ټولو افرادو څخه عبارت دی، چې د افغانستان تابعيت ولري، د افغان کلمه د افغان ملت پر هر فرد اطلاق کېږي.
- شپږمه ماده: دولت د ټولنيز عدالت، د انساني کرامت په ساتلو، د بشر حقونو په ملاتړ ، د اولس واکۍ په تحقق، د ملي وحدت په تامين، د ټولو قومونو او قبايلو ترمنځ په برابرۍ او د هېواد په ټولو برخوکې د متوازنې پراختيا پربنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

- شپاړسمه ماده: د پښتو، دري، اوزبکي، بلوڅي، ترکمني، پشه يي، نورستاني هزاره يي او په هېواد کي د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري ددولت رسمي ژبې دي، خو دولت د ټولو ژبو د پياوړتيا او پراختيا لپاره اغېزمن پروګرامونه وضع او پلي کوي، د رسنيو او د راډيو تلوېزيون خپروني د هېواد په ټولو مروجو ژبو خپلواکه دي.
- دوه ويشتمه ماده: د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر ډول تبعيض او امتياز منع دی، د افغانستان اتباع د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري.
- د همدې اساس قانون د حکم پر بنسټ، شعيه مذهب هم رسمي و او شعيه افغانان يې د احکامو تابع و.

که موږ د پورتنی برخي سمه شننه وکړو، هېڅ اسي کوم دليل نه پاتي کېږي، چې  فدرال نظام حتا د بحث وړ وګرځي.

**ب- له پيړيو واحد افغانستان:** افغانستان نوی رامنځته شوی يا له ټوټو جوړ هېواد نه دی، چې فدرالي شي او خپل طبيعي وحدت، چې له سلګونو کلونو را روان دی، په لوی لاس وپاشي او د نړۍ له نقشې څخه د ورکېدو لار يې پرانېستل شي. د افغانستان د جغرافيايي وحدت بريا او نېکمرغي پدې کې ده، چې له نېکه مرغه د افغان دولت د بنسټ ايښودوڅخه وړاندې داسي دولتونو يا خپلواکو سياسي واحدونو شتون نه درلود، چې ځواکمن وي او د يوې ګډې هوکړې له مخې سره يو ځای شوي وي، داسي هم نه دي شوي، چې ددې جغرافي اوسېدونکې ګډ ارزښتونه او نورمونه له سپنتړې پېژل ځواک سره نه درلودل او يا هم د افغانستان بنسټ ايښودنه د نورو خپلواکو ساحو په زور نيونه شوې وي. کله چې لوی احمد شاه بابا(رح) د نوي افغانستان بنسټ په ۱۷۴۷ کال په کندهار کې کېښود، پدې خاوره کې د مېشته ورونو قومونو استازي موجود وو. د ساري په توګه، د احمد شاه بابا (رح)  پېټکي باندې صابرشاه کابلي د غنمو وږی کېښود او اوزبک افغانانو د لوی احمد شاه بابا د ځواکونو غوښنه برخه جوړوله،چې دې کار په هماغه وخت کې د ملي غوښتنو او يووالي ځرګندونه کوله. که چېرې د افغانستان نفوس او مساحت د امريکا متحده ايالتونو ترکېچې وی، د دولت بنسټ ايښودنه د ۱۳ خپلواکو ساحو د يوځای کېدو پايله وی او وروسته ۳۷ نور ايالتونه په رضا يا د ځواک په کاروني يوځای شوي وی او هغه ډول ټولنيز او سياسي شرايط يې در لودی، شوني وه چې افغانستان په همغه وخت کې، لکه د امريکا متحده ايالات فدرالي نظام غوره کړی وی. افغانستان نوی رامنځته شوی دولت نه دی، چې د دولت په سياسي چوکاټ پر سر شخړو ته يې کار ويلي وي؟ افغانستان د دوه قطبي متراکمه کلتوري هويت جغرافيه هم نه ده لکه بلجيم او نه هم د لوی احمد شاه بابا امپراتوري ټينګه ده، چې په نړېدو به يې له وړاندې موجود محل پالنه شتون ولري، چې په فدرال غور وشي، بلکې افغانستان له پيړيو دا پدېخوا واحده جغرافيه لري، چې قومونه يې سره اخوت رامنځته کړی، ځکه خو هېڅ منطقي استدلال ددې ايجاب نه کوي، چې د عصبيت لرونکو په خوله دې فدرالي شي.

**ج- مناسبه جغرافيه او اغېزناک مديريت:** لويه جغرافيه د فدرال نظامونو د رامنځته تګ يو له بنسټيزو فکتورونو څخه شمېرل کېږي. د افغانستان جغرافيه وې مساحت ۸۰۰۰۰۰ کيلو متره مربع دی او اټکل کېږي، چې پدې مساحت کې ۳۵ ميلونه وګړي اوسېږي. له دې څخه دا جوتېږي، چې دا مساحت او د وګړو شمېره د هغو دولتونو په پرتله ځوبرابره کم دی، چې فدرال سياسي نظامونه يې د لوی جغرافي له وجې رامنځ ته شوي. د بېلګې په توګه، هندوستان ۲۸ ايالتونه لري، چې يوازې په اوترا‌پرادېش ايالت کې يې شاوخوا ۲۰۰ ميلونه وګړي ژوند کوي يا د روسي مساحت او جغرافيه که وکتل شي، حتا د نړۍ له څوارلس هېوادونو سره ګډه ځمکنی او سمندري پولي لري او د اسيا او اروپا له مختلفو برخو سره نښتي ده. کله چې د افغانستان جغرافيه تر هغي کچي نه ده، چې حکومت او د مرکزي حکومت کنټرول له ستونزو سره مخ کړي، د فدرال مطرح کول د فدرال د رامنځ ته تګ له اصولو سره ټکر دی. بل لور ته د کوچنی جغرافي ساتنه ده.کله چې د کوچنيو هېوادونو فدرالي ايالتونه يا جزيرې، تاريخ، د فدرال موخي او ځانګړني يې وکتل شي، روښانه به شي چې دې هېوادونو له فدرال پرته بله لار نه درلوده. ځيني کوچني او کم نفوس لرونکي فدرال دولتونه له دې امله رامنځ ته شوي، چې خپلواکو ساحو نه شو کولی په يوازېتوب له خپل پايښت او شتون ډاده اوسي، نو دا برخې متحده شوې، چې نسبي ځواکمن مرکزي قوت رامنځ ته کړي، چې خپله بقا خوندي کړي، لکه مايرکونېشيا چې له ۲۰۰۰ جزيرو څخه جوړ هېواد دی. افغانستان نه تر هغي کچې لوی دی لکه کاناډا او استرليا، چې بسيط نظام ته يې مديريت ستونزمن شي او نه هم لکه مايکرونېشيا او سنکېټس او نويسله جزيرو جوړ کوچنی دی، چې د کوچنيوالي له امله ښاماران يې له ستوني تېر کړي. په ډېرو دې هېوادونو کي پخپله خوښه د خپلواکو ساحو يو ځای کېدو، بهرني فشارونو او د ټولني عيني او ذهني شرايطو هم د فدرال نظام په رامنځ ته تګ کي خپل نقش لوبولی، خو يو يې هم داسي نه دی، چې بسيط سياسي نظام يې د ځينو په فرمايش فدرال هغه ته اړولی وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**د- قومي او ژبنی غیرتراکم اوغرمتمرکزیت:** قومي فدرلېزم د جنون حالت دی، چې تحقق یې د بالیووډ په فلمونو او یا د یو قومي فدرال غوښتونکي په خوبونو کې شونی دی. افغان ملت له مختلفو قومونو جوړ لوی ملت دی. افغان قومونه په ځانګړې توګه تاجک افغانان د هېواد په مختلفو برخو کې خواره واره پراته دي او پښتانه هم د هېواد د ټولو سمتونو په ګډون په شمال او شمال ختیځ کې غوښنه برخه جوړې. له قومي او ژبني پلوه افغانان داسې سره پېیل شوي، چې کله نا کله یې د قومي هویت تفکیک ګران شي. د بېلګې په توګه، د هېواد په شمال ختیځ کې چې کندوز، بغلان، تخار او بدخشان ولایتونو ته نظر وشي، د افغان هزاره، تاجکو، پښتنو، اوزبکو، عربو، ایماقو او داسې د نورو افغان قومونو ګډ لوی کور دی او حتا کله نا کله دا ستونزمنه شي، چې په کندز کې کوم قوم اکثریت جوړې او په همدې ترتیب مزار، کابل او نور ولایتونه.بل لور ته که چېرې قومي فدرالېزم جنون وي، جغرافیه وي فدرالېزم یې حد دی. کله چې قومي فدرال غوښتونکو پام شو، چې په افغانستان کې قومي فدرالېزم، چې ددوی د فدرال غوښتنې بنسټیزه فلسفه جوړوي، ناشونی دی، په وروستیو کې د جغرافیې پربنسټ د فدرال ایالتونو په لټه کې دي، چې دا هڅه هم بې پایلې ده. د بېلګې په توګه،په کندز کې د هېواد د ټولو قومونو وګړي ژوند کوي. کله چې فرضاً فدرالي ایالت شي، اکثریت قوم به واک تر لاسه کړي، او د لږکیو حقوق به تر پښو لاندې کیږي او هم اکثریت کوښښ کوي، چې نور قومونه له خپل قوم سره مدغم، حذف یا ډله ییز کورني مهاجرت ته یې اړ کړي، چې دا حالت د قومونو ترمنځ د جګړې اعلان دی، قتل او قتال به په هره کوڅه کې روان وي. پر همدې بنسټ، افغانانو دا درک کړې، چې دا ډول طرې چې د یو ملت په وجود د چړو ګزارونه کوي، په نطفه کې خنثی کړي.له وړو ژبو او قومونو سره تعصیب په فدرالي نظامونو کې طبیعي خبر ده، چې دا حالت به د جګړو او پاشل کېدو اساس وي

نور بیا

**هه- بهرنی لاسوهنی: ډېره مهمه داده چې:...**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ